د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

# رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

## یواین مکلاود د ملګرو ملتونو د کډوالو د چارو د اداری سرپرست په افغانستان کی
## داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه

*کابل- د نومبر د میاشتی ۳ نیټه، کال ۲۰۰۸*

## د ژمي تر مخه د خوراکي توکو لیږد

د سږ کال د راتلونکي ژمی خوراکي توکو د اړتیاوو په ځواب کې ۳۶۰۰۰ ټنه مواد هغو سیمو ته استول شوي دي چې کیدای شي د ژمي پر مهال ورته لاره نه وي. دا د نړیوال خوراکي پروګرام د منظمو پلانونو برخه ده چې همدارنګه د وچکالۍ په مقابل کې او د لوړو بیو د راتیټولو لپاره ترسره کیږي.

د دغه مقدار څخه ۳۸ ٪ یې لا تر مخه ډیرو ستونزمنو سیمو ته استول شوي دي. د مثال په ډول ۵۵ ٪ د بدخشان لپاره دي چې دا یوه له ډیرو اغیزمن شوو سیمو څخه ده او ورته دغه مواد استول شوی دي.

د هیلي سره سم د رسیدونکو محمولو سره به دغه جریان تر راتلونکی پسرلي پوري دوام وکړي. که څه هم موږ د مرستندویه ټولني څخه د لا زیات ملاتړ او مرستي اړتیا لرو ځو چې د خوراکي توکو د لیږد دغه جریان د مارچ څخه وروسته هم ولرو، ځکه د مرستو د اعلان وروسته د هیواد لپاره د خوراکي توکو برابرول له ۳ څخه تر ۴ میاشتو پوري وخت نیسي.

هر ډول هلي ځلي کیږي ځو د دې باور تر لاسه شي چې خواړه اصلي مستفیدینو ته تر دې وړاندې ورسیږي چې دغه سیمو ته لارې بندې شي. موږ به په منظمه توګه تاسو ته په دې اړه معلومات در کړو.

## د بامیانو د بیا رغوني لپاره د ټولنیزې- اقتصادي پرمختیا ستراتیژي: د پرمختیا په اړه جنسیتي اړخ

د بامیانو پرمختیا د هغه کنفرانس موضوع ده چې سبا ته د سرینا په هوټل کې د اقتصاد د وزارت او د بامیانو د ولایتي چارواکو له خوا جوړیږي. دا کنفرانس د هغه کنفرانس د پریکړو د تعقیب لپاره دی چې د جولای په میاشت کې د بامیانو په ولایت کې جوړ شو چې موخه یې په دغه ولایت کې د همکارۍ همغږي ده چې د ولایت، مرکزي حکومت او نړیوالي ټولني تر منځ باید موجوده وي. دغه کنفرانس کې به په ولایتي پرمختیا فرهنګي او زیربنایي پلانونو باندې خبرې وشي او د دې باور به تر لاسه کړي چې هلته د جنسیت په اړه اندیښني په پام کې نیول شوی دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د جنسیت د برابرۍ پروژه د دغه کنفرانس تمویل په غاړه لري.

## د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري

سهار مو نیکمرغه، تر هر څه د مخه ما ته اجازه راکړئ چې تاسو ته ددې معذرت وړاندې کړم چې په درې او پښتو نه شم غږیدلای او په انګلیسي تاسو ته وینا کوم.

زه فکر کوم چې لنډې خبرې به ولرم، او دا به دري موضوعات وي، تر هر څه وړاندې په ۲۰۰۸ کال کې د بیرته راستنیدني پرمختیا، دوهمه دا چې موږ د بیرته راستنیدني د عمومي جریان په توګه ۲۰۰۸ کال څنګه ارزوو او دریمه دا چې یو څو خبرې د هغه کنفرانس په اړه چې د بیرته راستنیدني او بیرته یو ځای کیدني په اړه په څو راتلونکو اوونیو کې جوړیږي ولرو.

له پاکستان او ایران څخه چې ورته ګاونډیان وایو د سږ کال د راستندیني شمیر ۲۷۶۷۰۰ د شپږو پرلپسې کلونو په موده کې دا په نړۍ کې پخپله خوښه د راستنیدني ډیرهستره شمیره ده.

که چیرې موږ دغه شمیره تجزیه کړو نو د ۲۷۶۰۰۰ څخه ۹۹ په سلو کې د پاکستان څخه راستانه شوی دي او یوازې یو په سلو کې د ایران څخه دي.

که چیرې موږ په سیمه ییز لحاظ وګورو نو نمونه پوره څرګنده ده، د آټکل له مخې ۱۷۰۰۰۰ کسان ختیځو سیمو ته راستانه شوي دي. او په ختیځه سیمه کې موږ ننګرهار، لغمان او کنړ په ځانګړی توګه کولای شو یاد کړو او لږ تر لږه ۴۷۰۰۰ کسان مرکزي سیمو ته راستانه شوي دي چې په دې کې د کابل ولایت او ښار، لوګر، وردګ او نور هغه ولایتونه چې کابل ته نږدې دي شامل دي.

د پام وړ ده چې د ۲۷۳۰۰۰ کسانو څخه چې د پاکستان څخه راستانه شوي دي ۸۵ په سلو کې یې د شمالي صوبه سرحد د آیالت څخه دي. که چیرې یوازې د سړ کال ارقام په عمومي ډول وګورو ځکه فکر کوم چې ډیر ستاسو څخه په دې پوهیږئ چې د ۲۰۰۲ کال څخه را په دېخوا افغانستان ته د ۵ میلیونو څخه زیات وګړي راستانه شوي دي. د هغو څخه ۳. ۴ میلیونو سره یې د یو ان ایچ سی آر له خوا د خپلې خوښې د راستنیدو په لاره کې مرسته شوې ده.
د ۳. ۴ میلیونو کډوالو سره د یو ان ایچ سی آر له خوا مرسته شوې ده د دې نیمایی مرکزي او ختیځو سیمو ته ستانه شوي دي.
په ډیره ځانګړې توګه ویلای شو چې ۱،۱ میلیون کسان کابل ولایت او ښار ته راستانه شوي دي او نږدې ۸۵۰۰۰۰ تنه یې د ننګرهار ولایت ته راستانه شوي دي.

زموږ اټکل دا دي چې د ۵ میلیونه وګړو شمیره نږدې په سلو کې ۲۰ زیاتوالی ښکاره کوي چې دا د ټولو هغو وګړو شمیره ده چې د ۲۰۰۲ کال څخه هیواد ته راستانه شوي دي.

که چیرې موږ د کابل ښار په نظر کې و نیسو، زموږ عمومي تخمین دا دی چې په عمومی ډول وګړي دری ځله زیات شویدی، موږ داسی تخمین کړي چې د ۲۰۰۱ کال په پای کې دغه شمیره کابو ۱،۵ میلیونه وه او امکان لري چې اوس دغه شمیره ۴،۵ او یا ۵ میلیونه وي.
هغه مهمه احصایه چې باید د کابل ښار د وګړو د زیاتیدو په هکله په ذهن کې ولرو دا ده چې کابو ۳۰ فیصده له پاکستان او ایران او نورو هیوادونو څخه د افغانی بیرته راستنیدونکو ته وقف کیږی، خو ټوله نه.

زه فکر کوم چې دا موضوع ټولو ته واضحه ده چې د بیرته راستنیدونکو د پروګرامونو د شمیری سره د وګړو د شمیر زیاتوالی حتی غربی صنعتی هیوادونو ته هم یوه ستره ننګونه ده. په دغه نژدی وختونو کې موږ خبر نه یو چې یو هیواد په داسی لنډه موده کې دومره زیات خلک یې منلي او جذب کړي وی.
په څرګنده توګه د دغسې اندازې راستنیدنه واقعا ټولنیزې او اقتصادي ننګوني رامنځ ته کوي، خو په عمومي توګه زموږ تحلیل دا دی هغه څه چې د افغانستان نفوسو د دغه ستر شمیر په بیا جذبولو کې ښودلې د قدر وړ دی او هیچرې یې نمونه نشته.

زه فکر کوم موږ کولای شو دغه د راستنيدني حرکت په ستره توګه په دوو مرحلو وويشو. لومړۍ هغه چې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۵ تر منځ پيښه شوه چې هلته د راستانه شوو خلکو ډيرى چې هيواد يې نسبتا په نږدې وخت کې پرې ايښى وو د هغوي راجذبوونه خورا مخا مخ کار وو.

له ۲۰۰۶ راهيسي راستنيدنه خاص ډول د بيا يو ځای کيدني ننګوني ورځ تر بلې ستونزمني شوې دي او د افغاني نفوسو ۸۰ ٪ له هيواد بهر اوسيدلی دی او تر ۲۰ کلونو زيات يی د هيواد څخه بهر تير کړي دي. او په ربښتيا سره د هغوي نيمايي د افغانستان نه بهر زيږيدلی دي، نو دا يو ځوان نفوس دی. که چيرې موږ ددغو تمايلاتو او يا کليدي فکتورونو شاته د سږ کال د ۲۷۶۰۰ عدد ته وګورو دری شيان به ترې په ډاګه کړو:

لومړی، په نړيواله کچه د خوړو او سونګ د موادو د بيو لوړيدل، چې د پاکستان په اقتصاد باندې يې ډير قوی اغيز پروت دی، دوهم، د اوږدې مودې لوی د کډوالو پنډغالی چې جلوزي نوميده ددې پنډغالی بنديدل.

دريم، په پاکستان کې د امنيتي اوضاع بدليدل په تيره بيا په شمال لويديځ ولايت کې، چې واقعا يې د راستانيدني په تصميمونو باندې څه اغيز درلودلای دی.

يو شمير عمومی پايلې دي، چې موږ کولای شو د سږ کال له حرکتونو څخه يې راوباسو، چې کيدای شي موږ ته ووايي چې څرنګه شيان په راتلونکي کې پراختيا موندلي شي. دا به په راتلونکو کال کې روښانه شی.

لومړنی لامل البته دا دی، چې د افغانستان نفوس له ۱۹۷۷ راهيسي دوه برابره شوې په داسي حال کې چې د کرهنی قابل سيمه په هماغه اندازه پاتې ده.

نو البته دا د ځمکي په شتون باندې ډير فشار راوړي او موږ د دې کار ځيني شواهد ليدلي دی چې د هستوګن ځايونو له اتوماتيک زياتوالی سره هم د ننګرهار په شان په کليوالو ولايتونو کې او هم په ښارونو کې د دې لپاره چې د کارګومارني کافی اندازه منځ ته راوړل شی، اقتصاد بايد په يو چټک سرعت سره وده وکړي د دې لپاره چې په بازارونو کې ډير شمير کارګر جذب کړي.

موږ به و اټکلوو چې په ايران او پاکستان کې په عمومي ډول ۷۸. ۲ ميليونه افغانان راجستر شوي دي: موږ باور لرو چې افغانان به راستنيدلو ته دوام ورکړي او موږ ډيره هيله لرو چې هغوي به دا کار وکړي، خو زه فکر کوم دا به په دوو مهمو لاملونو پورې اړه ولري. په څرګند ډول هغه د کار زميني چې دلته په افغانستان کې شتون لري او هغه چې په ګاونډيو هيوادونو کې دي. نو خلک بايد انتخاب وکړي.
او دوهم البته امنيتي شرايط دي. دا په څرګنده دا د هغو لپاره ده چې له دا ډول راتلونکو ننګونو سره معامله وکړي چې د افغانستان دولت او يو ان ايچ سی آر پريکړه کړې ده چې دغه نړيوال کنفرانس د راستنيدني او بيا يو ځای کيدني په باره کې تنظيم کړي چې په يو څو اوونيو کې به په کابل کې داير شی.

واقعا دا کنفرانس د دولت لپاره، د سيمي د هيوادونو او مرستندويو هيوادونو لپاره يوه موقع ده چي سره را يو ځای شي، چي آيا بيرته راستنيدنه او بيا يو ځای کيدنه به په څه شاني په راتلونکي کي په خورا ښه توګه حمايه کړی شي او په همدي ډول مهمه دا ده، چي دا څرنګه پايښت لرونکي کيدای شي.

البته د بحث خورا مهم ټکی به په دغي غونډي کي دا وي چي وليدل شي کومو ولايتونو ته به افغانان په راتلونکی کي راستانه شي او کوم سکتورونه به خورا مهم وي چي پاملرنه ورته وشي څو د هغوي بيا جذبول ممکن کړي او ددغي پروسي لپاره به څه ډول پروګرامونه او اقدامات اړين وي چي ملاتړ يي وکړي.

يوازي يوه وروستی تبصره، هغه دا ده چي دغه پروسه به ډير کلونه ونيسي. دا نه شي کيدای چي په لنډه موده کي پيښ شي. لکه چي ما مخکي وويل ننګوني خورا پيچلي او ستونزمني دي نو بايد دواړه حکومت او سيمه پاملرنه وکړي او همدارنګه د افغانستان دولت او د هغه نړيوال ملاتړي.

## پوښتني او ځوابونه:

**راډيو آزادی:** آيا تاسو کولای شي د راتلونکی نړيوال کنفرانس په هکله څه نور معلومات راکړئ؟ دا کنفرانس به چيري داير او ګډون کوونکی به يي څوک وي او له دي کنفرانس څخه ستاسو تمه څه ده؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کميشنري:** موږ د دي کنفرانس د تنظيم کولو چاري د افغانستان د حکومت سره په ګډه ترسره کوو، نو لازمه نده چي اوس نور معلومات وړاندي کړو. خو په دې اړه به ډير ژر مطبوعاتي پاڼي او معلومات وړاندي شي.

**سلام وطندار:** ويل کيږي چي د ايران حکومت زرګونو افغانانو ته په ايران کي د کارکولو اجازه نه ورکوي او په نتيجه کي هغوي اړ کيږي چي خپل هيواد ته راستانه شي. آيا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کميشنري په دی اړه له ايراني مقاماتو سره خبري کړي دي؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کميشنري**: لومړی بايد دا خبره جوته شي چي د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کميشنري د هغو افغانانو، انفرادي او نورو کسانو په اړه چي د اسنادو پرته کوم هيواد ته داخليږي، کوم حقوقي مسوليت نه لری. موږ په دي پوهيږو چي اقتصادي فشار د وګړو د خوځيدني لامل ګرځي. موږ همدارنګه د ايران د حکومت د انديښنو په اړه چي په نا قانونه توګه د هغوي هيواد ته کډوال ننوځي هم پوهيږو. موږ کولای شو وواېو د دي ستونزي يوازيني د حل لاره په هيواد کي د کارموندلو او اقتصادي فرصتونو زياتوالی دی.

**ایرین:** د مخ پر کښته ټولنیزو اقتصادي فرصتونو او په هیواد کې د خراب امنیتي وضیعت سره سره، آیا تاسو فکر نه کوئ چې هیواد ته د راستنیدني لړی ودریږي؟ آیا تاسو به دغه موضوع په کابل کې د کنفرانس ګډونوالو ته وکړئ؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنري:** د دي په اړه لومړنی غبرګون دا دی چې د بیرته راستنیدنی چارې په خپله خوښه ترسره کیږي. خلک د خپلو ارزونو پر بنسټ چې آیا هغوي به په هغه ځای کې چې هغوي په کې میشت دي سوکاله وي او که هیواد ته ستانه شي، خپلې پریکړې نیسي. لکه څنګه چې ما د مخه وویل ۵ میلیونو افغانانو پریکړې کړي چې خپل هیواد ته ستانه شی. خو ستاسو پوښتنه هغو ستونزو ته هم اشاره کوي چې هغوي ورسره مخامخ دي. موږ او هیڅ حکومت به په دي موقف کې نه شو چې خپلو وګړو ته ووایي چې هغوي خپل هیواد ته نه شي تللاي که چیرې هم وضیعت اسانه او یا هم ستونزمن وي. دا په رښتیا سره د یوه وګړي او کورنی پریکړه ده چې باید هغوي یې ونیسي. نو زه فکر نه کوم چې د بیا راستنیدنی پروګرام دي د دي کار لپاره ودریږي. دا کار په عملي توګه د نه کولو وړ دي.

**د سبا تلویزیون:** آیا تاسو کولای شئ د سږ کال د افغانانو د راستنیدني په هکله لږ څه نور معلومات وړاندي کړئ؟ له ۲۷۰،۰۰۰ څخه زیات کسان هیواد ته ستانه شوي. هغوي اود هغوي ستونزې چیرته ولاړې دی. آیا تاسو فکر نه کوئ چې د بیا ستنیدني روان پروګرام چې موخه یې د هغو خلکو سره مرسته ده کوم چې خپل هیواد ته راستنیدل او آیا دا به نورې ننګوني او ستونزې را پیدا نه کړي؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنري:** تاسو د نورو تفصیلاتو غوښتنه وکړه. زه فکر کوم چې په دي اړه ما د مخه هم معلومات وړاندې کړي دي، شرقي سیمي ۱۷۰،۰۰۰ کسان چې له دې جملې څخه یوازې ۱۱۵،۰۰۰ کسان ننګرهار ولایت ته ولاړل، مرکزي سیمي ۴۷،۰۰۰ کسان چې له دې جملې څخه یوازې ۳۳،۰۰۰ کابل ولایت او کابل ښار ته راغلل او نږدې ۱۰،۰۰۰ کسان د لوګر ولایت ته ولاړل. که چیرې تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ کولای شم په دي هکله نور تفصیلات هم وړاندې کړم، همدرانګه موږ د ولسوالیو د کچو په اړه هم معلومات لرو. ستاسو د پوښتني په اړه چې د ستونزو په هکله ده باید ووایم چې دا کار لا هم ستونزمن کیږي. دا ځکه چې موږ په کله د رضاکاري د اصولو په واقیعت اصرار کوو، موږ فکر کوو چې د خلکو په اړه ښه قضاوت هلته کیدای شي چې د هغوي د کورنیو ګټې نغښتې وي. هغوي له خپلو خپلوانو، دوستانو او شبکو سره اړیکې لري. هغوي کولای شي د خپلو ارزونو پر بنسټ پریکړه وکړي چې آیا بیرته ولاړ شي او که څنګه.

**آی آر آی بی:** یو خنډ چې افغانان ورسره مخامخ دي هغه ټولنیز وضعیت او د کار نشتوالی دی، آیا تاسی داسی فکر کوئ چې نړیوال کنفرانس به په یو ډول سره د بیرته راستنیدونکو خلکو د ټولنیز اقتصادی او همدارنګه د کار موندلو پر موضوع بحث وکړي او د هغه لپاره لاره هواره کړي؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنري:** یو شی چې موږ به په کنفرانس کې تر سره کړو، هغه دا دی چې د افغانستان حکومت به د بیرته راستنیدونکو او د تولنو سره د بیا یو ځاي کیدلو ستراتیژي، د افغانستان د ملی پراختیایی په ستراتیژی کې روښانه کړي. تاسی ټول پوهیږئ چې د افغانستان د ملی پرمختیایی ستراتیژی په پاریس کې د جون په میاشت کې نړیوالی ټولنې او ډونرانو ته وړاندی شوه او ډونرانو د دغې ستراتیژی د پلی کولو لپاره د ۲۱ بلیونو ډالرو ژمنه وکړه. موږ هیله مند یو چې کنفرانس به د افغانستان د حکومت لپاره مالی او تخنیکی اړتیاو ته، د افغانستان د ملی پراختیایی ستراتیژی پروګرامونو ته او دا چې دا ټول به په څه ډول د دی امر په تامینولو کې مرسته وکړي چې افغانان بیرته راستانه او په خپل هیواد کې په دوامداره ډول میشت شی، پام وکړي.

**آزاد ژورنالست:** زه غواړم چې له تاسی څخه د خپلی خوښی د اصولو په هکله وپوښتم، سږ کال دغی مسلی ته په کومه پیمانه د ځینو پیښو په واسطه ننګونه شوي، لومړی د کمپونو تړل، او ښایي هم دامنیتی پیښو له امله . همدارنګه هیله کوم چې د داخلی بی ځایه شوو کسانه په هکله ماته یو څه معلومات راکړئ، که چیری تاسی د ۲۳۵۰۰۰ وګړو په هکله هغه لرئ، آیا تاسی هغه شمیری هم ګډ ی کړي چې نه دي توانیدلی خپلو اصلی مینو ته ور ستانه شی او په دغه شمیره کې د بی ځایه کیدو بیلابیل لاملونو او دلیلونه څه دي؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنري:** د پوښتنې د لومړي برخی یعنی د خپلی خوښی د اصولو په ځواب کی باید ووایم، د افغانستان په ګاونډیو هیوادونو کې د افغانانو شتوالی او د بیرته راستنیدونکو د پروګرامونو او کته ګوریو د ستری شمیری په نظر کې نیولوسره، موږ ډیر قانع یو او د خپلی خوښی اصول رعایت شوي. د داخلی بی ځایه شوو کسانو په هکله باید ووایم چې دا یوه پیچلي پوښتنه ده، زه ترجیح ورکوم چې دغی پوښتنې ته په یو بل وخت کې ځواب ووایم او یا تاسی کولای شی په مستقل ډول موږ ته مراجعه وکړئ او موږ به تاسو ته توضیحی معلومات وړاندي کړو. زه فکر کوم چې دا ډیره مهمه ده چې په یاد کې وساتو چې د بی ځایه شوو کسانو دغه وضعه تر هغه ځایه چې زه خبر یم د ګاونډیو هیوادونو په سخاوتمندی، حوصله او زغم سره له ۳۰ کلونو راهیسی په بی ساری توګه دوام لري.

**افغان غږ:** ځیني شړل شوي افغانان بیرته یو شمیر ګاونډیو هیوادونو ته د بي کاری او امنیتي ستونزو له امله تللي. که چیري وضیعت په همدي شان دوام وکړي، آیا تاسو فکر نه کوئ چې زیات شمیر کسان به د تګ لپاره اړ شي؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنري:** لکه څنګه چې ما د مخه هم وویل راتلونکی بهیر به په دوو فکټورونو امنیت او اقتصادي فرصتونو پوري اړه ولری. زموږ د هیلو یوه برخه په دي کنفرانس پوري چې په کابل کې به په دې نږدو کې دایر شي تړلي ده، موږ به وکولای شو چې په ټولیز ډول دغو لارو چارو ته وګورو او څنګه کولای شو په هیواد کې د جلب او جذب ظرفیت لوړ کړو، که نه نو هغه وضیعت چې تاسو یې یادونه وکړه ښایي پر لوړیدو شي.

**هشت صبح:** آیا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنری دفتر داسی آټکلی شمیری لری چې د ۲۰۰۲ کال څخه وروسته هغه کډوال چې نه دي توانیدلي چې میشت شی او د بیرته تګ پریکړه یې کړي ده ، آیا تاسی داسی شمیری لرئ؟

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمشنري:** نه موږ داسی شمیری نه لرو، دا ځکه چې موږ په حقیقت کې د دا ډول معلوماتو د ټولولو رسمی ذرایع نه لرو. د ساری په توګه کوم خلک چې ایران ته پرته لا پاسپورت څخه د پولی تیریږ ي نو د معلوماتو د ټولولو رسمی منبع نشته. په عین ډول کوم خلک چې پاکستان ته ځي نو د معلومات رسمی سر چینی نشته، خو باید وویل شی چې د وګړو خوځښت مهم دی.